یـــونامـــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندویه پلاوي دفتر
دستراتیژیکو اړیکو دفتر
مطبوعاتي اعلاميه
www.unamanews.org/pashto

د اوبو د حقونو پر سر د شخړو د هواري موثري او شفافي وسيلي، د اقتصادي ودې او د شخړو د هواري لپاره مهم شرط،

د يوناما د نوي راپور په حواله

کابل، د ۲۰۱۶ کال داکتوبر ۲۳ مه - د يوناما د يوه نوي راپور په حواله، په افغانستان کې د کرنې د پراختيا د ملاتړ په موخه د اوبو لپاره تقاضا، چې د شخړو، خرابيدونکو زيربناوو او وچکالی له امله ډيره اغيزمنه شوې، اکثرا د اوبو د حقونو پر سر د سترو شخړو د رامنځ ته کيدولامل کيږي.

"د اوبو حقونه : د افغانستان د حقوقي چوکاټ ارزونه چې موخه يې د کرنې لپاره د اوبو تنظيمول دي" د هيواد د اقتصاد لپاره د اوبو اهميت په ډاګه کوي.

زياتره کليوالي ټولنې د خپلو حاصلاتو د ودې او خارويو د ساتلو لپاره، چې د دوی ژوند او معيشت ورپورې تړلی اوبو ته په ډاډمن لاسرسي تکيه لري. تقريبا ۸۰ سلنه افغانان خپل معيشت د کرنيز سکټور څخه ترلاسه کوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي او د يوناما مشر بڼاغلی تادامیچي يماموتو وويل: "لکه څنګه چې راپور په څرګند ډول ښکاره کوي، د اوبو پر سر په شخړو کې شامل خطرونه لوړ دي". هغه وويل: "په سوله ييزه توګه د دغو شخړو هوارول ډير مهم دي."

په افغانستان کې د اوبو سره د تړلو شخړو د هواري په موخه له رسمي او غير رسمي وسيلو او لاروڅخه کار اخيستل کيږي. په دغو وسيلو کې د شاملو دوديزو کړنو او فعاليتونو تر څنګ چې د اوږد مهاله صلاحيت او د اوبو د مير آبانو د درناوي د مسلې سره تړاو لري، د ۲۰۰۹ کال د اوبو قانون هم شامل دی.

د يوناما راپور د ساحوي څيړنې هغه پايلې مستندوي، چې موخه يې د شخړو د حل لارو د ميکانيزمونو د موثريت ارزونه ده. دا راپور داسې عملي سپارښتنې وړاندې کوي، چې موخه يې له هر ډول تاوتريخوالي پرته د حل لارو لپاره د اسانتياوو برابرول دي.

ددې قانون يوه مهمه لاسته راوړنه داده، چې د اوبو د قانون پر بنسټ داوبو له جامع تنظيم شوي طرحې او اړوند اداري جوړښت سره سرهد اوبو کارونکي د خپلو اختلافونو د حل په موخه تردېره د اوبو په محلي مير آبانو باندې تکيه کوي. لامل يې د اوبو په قانون کې شته تشه او اړوند اداري جوړښتونه دی.

د يوناما د قانون د حاکميت د څانګې مشر بڼاغلي مايکل اي هارتمن وويل، دا موندنې "تصديقوي چې ستونزه د ليکلي قانون سره نه، بلکې د قانون د پلي کيدو سره ده، او زياته يې کړه چې يوناما به د اوبو د قانون د هر اړخيز پلي کولو په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي."

بشپړ راپور د يوناما پر ويب پاڼه موجود دی: http://unama.unmissions.org/water-rights

***